# په ۲۰۱۰ کې بېوزلو ته له ۵ میلیون څخه د زیاتو کاري ورځو چمتو کول

د ۲۰۱۰ د فبروري لومړۍ نیټه، کابل افغانستان: د پروژو له لارې د ورځنـي کـارونو چمتو کـول له ډونرانو او افغانستان دولت سره مرسته کوي، یونوپس هم له خپلو شریکانو سره مرسته کوي څو د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې په ټول افغانستان کې بېوزلو ته ۲۰۰۰۰ دندې برابرې کړي.

**د یونوپس عمومي ډایرکټر، بروس مکارون لخوا**

که له افغانـانو څخـه پوښتنه وشـي چـې دم مهـال د افغانستان پـه وړانـدې تـر ټولـو سـتره ننګونـه کومـه ده، د دوامدار معیشت نشتون به د هغوی د ستونزو د لست په سر کې ځای ولري. پـه هغـه هیـواد کـې چـې پـه سلو کـې نـږدې ۴۲ وګړي یې په لوږې او بېوزلۍ کې ژوند تیروي، دا د حیرانتیا کومه خبره نه ده.

د عایداتي فعالیتونو له چمتو کولو پرته به افغاني کورنۍ ونـه توانیږي چـې د خپل ژوندانـه کچه ښه کـړي، پیـاوړې ټولنه رامنځ ته کړي او په همدې ډول د اقتصادي لوړو ژورو په وړاندې زیات مقاومت پیدا کړي.

په داسې حال کې چې په ټولې نړۍ کې د بیکارۍ کچه مخ په زیاتیدو ده، ډېری خلک نشي کولای خپلو کورنیو تـه معیشت چمتو کړي. خو په افغانستان کې چیرې چې په سلو کـې ۳۹ نفوس یـې لـه لوږې څخـه کړیږي، دا لـه تیرو وختونو راپدیخوا یوه عادي خبره ده.

له دې کبله د افغانستان دولت او نړیوالو ډونرانو تـه د دې هیواد د بېوزلـو وګـړو لپـاره د دوامدار شـغل او معیشت چمتو کول له عمده او بنسټیزو لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي.

لـه ۲۰۰۲ څخـه راپدیخوا، یونـوپس او نـورو شریکانو یـې لـه افغانستان دولـت سره پـه همکـارۍ کـې د "کلیـو تـه د لاسرسي ملي پروګرام" (NRAP) له لارې له ۱۲ میلیون څخه زیاتو کاري ورځو په برابرولو کې مرسته کړې، چې دغې پروګرام د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې نږدې ۵۰،۰۰۰ کورنیو ته زیات عاید ورپه برخه کړی دی.

سربیره پر دې، بنسټیزو پروژو ته د هڅو او پام په متمرکز کولو سره یونـوپس لـه میلیونونو افغانـانو سره مرسته کړې څو ټولنیزو خدماتو لکه روغتیا، ښووني او روزنې او سیمه ییزو مارکیټونو ته د هغوی د لاسرسی کچه زیاتـه شي.

یونوپس به په ۲۰۱۰ کال کې له افغان دولت او نړیوالو ډونرانو سره په پراختیایي پروژو کې کـار تـه دوام ورکـړي چې کولای شي د دې هیواد خلکو ته د کار زمینه چمتو کړي. د دې پروژو له لارې به نږدې ۲۰۰۰۰ کورنیو او د هغوی غړو ته د عایداتي فعالیتونو له لارې د کار زمینه چمتو شي چې په دې توګه لږ تر لږه ۸۰۰۰۰ تنـه بـه د ښـه ژوند خاوندان شي.

یونـوپس بـه یوازې پـه سرپل او سمنګان ولایتونو کـې د سویډن د پراختیـایي مرستو ادارې (SIDA) څخـه ملاتړ وکړي څو د سړکونو د ساتنې کارونو له لارې د دې ولایتونو اوسیدونکو ته نږدې ۲۵۰۰۰۰ کاري ورځې برابرې کړي.

Afghanistan Operations Center (AGOC) | PO Box 1772, Central Post Office, Kabul,
| www.unops.org/agocAfghanistan |

په همدې ډول یونوپس په پام کې لري څو د افغانستان دولت د سړکونو د ترمیم او جوړولو له سراسري پروګرام او کلیو ته د لاسرسي ملي پروګرام (NRAP) څخه چې د نړیوال بانک او د افغانستان صندوق لخوا تمویل کیږي، خپل ارزښت لرونکي ملاتړ ته دوام ورکړي. ۲۰۱۰ کال به په ټول هیواد کې د خلکو لپاره د نږدې ۵ میلیونه کاري ورځو شاهد وي.

په ۲۰۱۰ کال کې د نورو بنسټیزو پروژو تطبیق هم په پام کې نیول شوی چې د هغوی له لارې هم د کار موندلو کچه لوړیدای شي. یونوپس په پام کې لري چې په کندهار ولایت کې له جاپان دولت سره په مرسته؛ په بامیان ولایت کې د ایټالیا دولت او په فاریاب کې له آسیایي پراختیایي بانک سره د سړک جوړولو په چارو کې کار وکړي.

د افغاني محصولاتو د ساتنې پروګرام چې زیات بریالیتوبونه یې هم درلودل او د امریکا د متحدو ایالتونو لخوا تمویل او د تطبیق مسوولیت یې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په غاړه و، د دې لامل شو چې له ۲۰۰۳ کال راپدیخوا د دې هیواد خلکو ته نږدې ۴۰۰،۰۰۰ کاري ورځې چمتو کړي، چې دغه پروګرام به د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې دوام ومومي څو وکړای شي د طبیعي سرچینو د بیارغونې او احیا له لارې د کارموندنې او معیشت کچه نوره هم زیاته کړي.

افغانانو ته د کار او شغل چمتو کول د نړیوالې ټولنې له لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي. له دې کبله په هغو پروژو کې چې یونوپس ښکیل دی، زموږ هڅه دا ده چې له ماشینونو او ثقیلو ابزارو څخه د کار اخیستلو پرتله، له انساني قوې څخه کار اخیستل په سیمه ییزو ټولنو کې د زیاتو شغلونو لامل کیږي، په داسې حال کې چې له تر سره شوي کار څخه ډاډمن کیدل او د پروژو د تطبیق لوړ کیفیت هم موږ ته زیات اهمیت لري.

سربیره پر دې، په هغه هیواد کې چې سیمه ییز قراردادیان یې کمزوري دي، یونوپس او د هغې شریکانو لپاره د هیواد له سیمه ییزو ټولنو سره ګډ کار له لومړیتوب څخه برخمن دی، ځکه له هغوی سره کار کولای شي ورته پایله او یا هم لا ښه پایله ولري او د دې تر څنګ هغوی به د لاس ته راوړل شوې پایلې په وړاندې د لا زیات مسوولیت احساس وکړي.

د تجربو او پیاوړتیاو سم انتقال او د ظرفیتونو برابرول، د دوامداره شغلونو د چمتو کولو کیلي ده. د همدې کال په ترڅ کې، یونوپس به د افغانستان له مالیې وزارت سره په ګډه د افغانستان د ګمرکونو د مدرن کولو په پروژې کې چې د نړیوال بانک لخوا تمویلیږي، کار وکړي څو له دې لارې د افغانستان د ګمرکونو د ریاست ظرفیت پیاوړی شي. یونوپس او د ایټالیا دولت به د افغانستان د پیښو په وړاندې د آمادګۍ ادارې سره کار وکړي څو د دې هیواد په لویدیځو ولایتونو کې د غبرګون ښودلو ظرفیت لوړ کړي.

یونوپس به په ۲۰۱۰ کال له خپلو همکارانو څخه ملاتړ وکړي څو په افغانستان کې د دې هیواد خلکو ته د خپلو فعالیتونو محسوسه پایله وړاندې کړي، په داسې حال کې چې په دې فعالیتونو کې د افغانانو ښکیل کول او هغوی ته د دوامداره شغلونو برابرول د هغوی د پاملرنې په لومړي سر کې ځای لري. موږ به د افغانستان له خلکو سره په ګډه کار وکړو څو خپل هیواد ودان کړي.

د زیاتو معلوماتو لپاره، لطفاً له ښاغلي ټامي پیټرسن، د یونوپس عملیاتي مرکز سره په ایمیل آدرس: tommyp@unops.org یا وبسایټ: www.unops.org اړیکه ونیسئ.